بسمل

# دمیرویس نیکه په جومات کې د پاک قران ختم تر سره شو







بېګانۍ هغه بختوره شپه وه، چې د جرمني دبایرن آیالت په پلازمېنه مونشن ښارکې دافغانانو اسلامي مرکز (میرویس نیکه جومات) دمشرتابه هیئت په نوښت دقران عظیم الشان ختم ترسره شو.
یاد ختم د روژې مباره کې میاشتې په لمړۍ ورځ د ښاغلي قاري اسد سلیم په مټ پیل شوی و.
پرون ماښام د روژماتي لپاره ټولو خویندو او ورونو ته خوندورې غذاوې برابرې شوې وې.
د میرویس نیکه جومات رهبري او نور زړه سوانده افغانان ویاړي ، چې دپخوا په پرتله زمونږ ګډونوال خورا زیات شوي دي دبېلګې په ډول زمونږ د پرونیو ګډونوالو شمېر دخویندو او ورونو په ګډون سلهاوو ته رسېده البته دلا خوښي خبره خو لا داده، چې اکثریت زلمیانو او تنکیو زلمو ځانونه را رسولي وو.
دزلمیانو او په تېره بیا دتنکیوزلمو راتګ مونږ ته ددې ډاډ راکوي ، چې افغانان به هیڅکله هم خپل دین، دود او دستور پرې نهږدي.

زموږ د بېګاني نه هيرېدونکي ختم جريان په لاندي ډول و:

۱ـ د ښاغلي قاری هجرت لخوا ګډونوالو ته دپاک قران له مخې وعض وشو په قران عظيم الشان کي دپاک الله دايتونو د ترکيب او يو له بل سره د اړيکو همدا راز دلمانځه او په لمانځه کې له پاک رب سره دمخامخ کېدو په اړونديې اوږدې او ګټورې خبرې وکړې.

۲ـ ځوان اوبا استعداد وروړ ښاغلي احمد طارق کاکړ د شبقدر (يلـــدا) شپې په اړوندله قران شريف څخه يو صورت په ډېر خوند سره په جرمني ژبه وژباړه د يادولو ده، چې زموږ د تنکيوزلمو لپاره په جرمني ژبه ژباړل خورا په زړه پوري او ګټور دي.

۳ـ د ښاغلي اسد سليم په امامت د تراويح لمونځ ادا شو.

۴ـ ښاغلي احمد طارق کاکړ د قدرمن ډاکتر صاحب نثار احمد صمد ياد وکړ، دهغه په ديانت اوهيواد پالني يې خبرې وکړې، د روژې په مبارکو ورځو کې يې له پاک قران څخه دډاکتر صاحب نثار احمد په زيار د هرې ورځې قراني ډالې ګډونوالو ته وريادې کړې.

له مخکينۍ خبرتيا سره سم يو ټوک قران عظيم الشان دهغه لپاره هديه کړ شو همدا راز د محترم ډاکتر صاحب نثار احمد صمد له غوښتني سره سم ټولوګډونوالوهغه ته دعاوې وکړې الله پاک دې پخپل لوی دربار کې ورته قبولې او منظورې وګرزوي.

دعزتمن ډاکتر صاحب نثار احمد صمد د ورتيا اونيکو چارو په بدل کې دقران عظيم الشان له هديې څخه پرته کومه بله لوړه ډالۍ په نړۍ کې وجود نه لري موږ ورته دزړه له تله ددې لوړ سوغات مباره کي وايو.

۵ـ دقران عظيم الشان دختم په وياړ په ټولوګډونوالو خويندو او وروڼو برابر شوي سوغاتونه کوم، چې تاسو په پورتني انځور کې وينئ لکه (نقل او چاکليټ) ووېشل شول.

په اخېر کې ټولو ګډونوالو په خوشحالي سره يو اوبل ته دقران عظيم الشان دختم مباره کي وويله او په خوښي سره خپلو کورونو ته ستانه شول.

دوه اړينـــې يادونې:

۱ـ کوچنی بختور اخترکه دسې شنبې په ورځ راغی اوکه دچهار شنبې په ورځ دميرويس نيکه په جومات کې به دنوموړي اختر لمونځ دسهار په نهو بجو له خيره سره ادأ کړ شي.

۲ـ دميرويس نيـــکه جومات اوس نوی مشرتابه هيئت لري د دې هيئت مشري ښاغلی حاجي صاحب احمد احمدزی کوي پخوانی مشر صديق الله فدايي ديولړستونځو له کبله اوس په دې جومات کې شتون نه لري او نه يې کوم مسؤليت دجومات رهبري په غاړه اخيستلای شي.

هيـــله:

موږ د نړۍ په مخ له ټولو اسلام دوستو خويندو او وروڼو څخه هيله کوو، چې دخپل وس په اندازه دميرويس نيکه له جومات سره مالي مرسته وکړي ځکه، چې زموږ مياشتني لګښتونه او کرايه موږ ته خورا ګران پرېوزي موږ باوري يو، چې ستاسو زکات او سر سايه به دالله پاک په درکې قبوله او دين په دنيا به ستاسو د سر سيوری وګرزي.

دميرويس نيکه جومات بانکي شمېره په لاندې ډول ده:

Konto-Nr.: 658 357 867

BLZ: 700 202 70

تیلیفوني شمېرې:

دحاجي صاحب احمد احمدزي شمېره 01747170700

دحاجي صاحب حبیب الله فیضي شمېره 01795001992

پتــــــــــــــــــــــــــــه:

Machtlfinger Strasse 10
München Ubahn 3 - 80379

دمختل فنگ سیمه دمونشن ښار په سویل کې موقعیت لري

دمیرویس نیکه جومات مشرتابه هیئت